# د اې این پي د صوبائي صدر

# افراسیاب خټک پېغام

د پښتنو فخر افغان باچا خان چې غالباً په خپل فطرت کښې ئې د ځان سره د قام او اولس د غم جنون راوړے ؤ، د شلمې صدۍ په ابتدائي لسیزو کښې د هغۀ د بې قراره روح اواز لکه چې هم دغسې ؤ چې:

زنځیــر چــې د نــړۍ د اخــوت جوړېــدۀ
ما غږ کړو د پښتون پکښې کړۍ کومه ده

حمزه بابا

هغــۀ چــې د نــړۍ د قامونو د اخوت په زنځیر کښــې د پښــتون د نــوم د کړۍ کومه حصه کوله نو ضرور به ئې دې ګران کار ته د لاس اچولو دپاره غور او فکــر کــړے وي، ځکــه چې لوئے کارونه په وړو سوچونو نۀ کېږي، شاید چې د هغۀ د کار ابتداء د دې قــام د اصــلي مــرض تشــخیص ؤ او مــونږ پــه یقین سره وئیلے شو چې کۀ هغۀ دغه تشخیص ټول په ټوله کړے هم نۀ ؤ خو د کار ابتداء ئې د ډېر صحیح ځائے نه کړې وه او هغه ؤ هغه تنظیم چې د قوم د اصلاح دپاره جوړ شو او بل د ازادو سکولونو بنیادي کار روانول چې یو طرف ته د غلامۍ د عروج زمانه وي او بل طرف ته کړۀ وړۀ د یوې خالصې قبائلي ټولنې وي، د دغسې ټولنې خلق په خپله جوړول او بیا ترې د قام او اولس د اصلاح کار اخستل او د یوې قبائلي ټولنې د ولاړ سوچ نه د قامولۍ لویې مدرسې ته راوستل او بدلو شوو سوچونو او افکارو ته حواله کول ډېر ګران کار ؤ.



د اندېش په قول:

زده کړمه استاذه د احساس سبق
ماته دې وړومبے ټکے ډېر ګران ووې

او د دغې وړومبي ګران ټکي وړومبے استاذ هم هغه په خپله ؤ او طالب علم هم په خپله، ځکه چې هغه د محسوساتو په لار

ډېـر زر د معلومــاتو پــه تکــل راووتــو، د هغــهٔ د جدوجهد مېدان ډېر لوئے او د تـاريخ داسـتان ډېر وسيع دے. په دې مېدان کښې هغهٔ او د هغهٔ ملګرو د خوږې ځـوانۍ ورځـې شـپې لکـه د ترخـو زهـرو د ګوټونو تېرې کړې دي. البته نهٔ يواځې ئې د پـېرنګي نه ازادي ګټلې ده، بلکې پښـتون پـه وړومبي ځل د قام په حېثيت د نړۍ د قـامونو سره پېژندګلو کړے دے. نن هر پښتون په خپله په ځان سوال کولے شي چې د نړۍ پـه قـامونو کښـې زمـا حېثيت څهٔ دے او څنګه پکار دے؟

دغسې ولي خان چې د باچا خان د فکر ډيوې ئې د ډېرو لويو لويو سازشونو په طوفـان کښې بلې يوړې او داسې ئې دغې مشکل کار له اوږه ورکړه چې کـهٔ باچـا خـان بـه هـر چرتـه ؤ د هغـهٔ کمے بـه نـهٔ محسوس کېدهٔ. ولي خان د غېر جمهوري رويو په شوربده بازار کښې داسې جمهوري اوازونه پورته کړهٔ چې ډکټېټرانه عملونه ئې د ځان سره شرمنده کړهٔ او نن چې هر څوک د جمهوريت خبره کوي نو مخې ته ئې ولي خان سره د خپل قد و قامت او قدر و قيمت نېغ ولاړ وي. هغه اوس د جمهوريت دپاره د يو علامت شکل اخستے دے. ولي خان په هغې وخت کښې د جمهوري اصولو خبرې کولې په کوم وخت کښې چې مفاد پرستو د وطن د قسمت سره غېرجمهوري عمل لکه لوبې کولې او دا ئې خپل حق ګڼلے ؤ. ولې نن هر څوک مني چې حقيقي جمهوريت قامونو او خلقو ته خپل جمهوري حقونه سپارل دي او نن هر څوک دا مني چې د دې ملک د مضبوطيا او سالميت ضمانت هم دغه نسخې دي. ولي خان صفا او رښتينې لارې خپلول د باچا خان د سياست په غېږه کښې زده کړې وو او تر مرګه مرګه د هغې رښتياؤ مبلغ او ملزم پاتې شو خو هر چاته ئې د تګ دپاره رڼې لارې پرېښودې.

په نن وخت کښې چې کوم مشکل ټولو پښتنو ته پاتې دے، په هغې د قابو موندلو دپاره پښتانهٔ خوش قسمته دي چې په لاس کښې ورسره د باچا خان او ولي خان د ژوند او جدوجهد فکر او فلسفې رانهٔ مشالونه شته او ډېره لرې نهٔ ده چې په دغو ټولو مشکلاتو برے ومومي او خپل قام داسې پړاؤ ته ورسوي چرته چې صرف د پرمختګ او ترقۍ ارمان په ټولو زړونو کښې غزونې کوي او د قام او اولس ټول افراد د حاصل کړي شعور سره په منډه هم په دغه طرف روان وي. دا زمونږ کلک يقين او ايمان دے. انشاءالله